مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۲/۰۱/۰۲

# د یو ښه اصولِ تدریس په هکله

د تویک پرځای بچیانو ته قلم او کتاب په لاس کي ورکړئ ، دوی د جګړي او شخړو پرځای د علم او معرفت خواته وهڅوئ ، ځکه مونږ د دوی د روښانتیا مسوول یاستو ، د دوی د بیدارولو او جرأت ورکولو حق پر مونږ دی ، مونږ باید خپلي تجربی دوی سره شریکي کړو ،چي په راتلونکي کي دوی ته د لاري څراغ وګرځي ،چي دوی زمونږ او خپلو تجربو په رڼا کي ،د یو روښانه راتلونکی په لور درانه او استواره قدمونه کيږد.

باید د جنګ او جګړي نه په انتباه کي دوی ته لنډي کیسی ، وجیزي ، ادبی ، تعلیمی ، تربیوی ، او یا هغه مطالب هم چي د اَمن او سولي پیغام په کي نغښتي وي ،او دا مطالب باید تل تعلیمی ، تربیوی ،اصلاحی، اخلاقی ،انتباهی ، او د علم او معرفت د پاره د هڅوني ښه ولري ، په کار ده چي د داسو مطالبو سره د دوی ذهنونه آشنا کړو ،او د داسي مطالبو څخه په تدریسی مطالبو کي ډه ډه وکړو لکه (با با تویک لري ، ما ما تو پک راوړ،دا دا تویک په اوږه راغی،ما ما په تویک جهاد کوي ) داسي متنونو څخه چي دوی د جنګ او بربادی خواته هڅوی ډه ډه وکړو.

دوی ته باید د ښه تعلیم او تربیی تر څنګه د زړور تیا جرأت او اوسیلی درس ورکړو ، ځکه زمونږ نني لویه بدبختي د تعلیم او تربیی ضعف دی ، او د یو نا سالمی تربیی زيږنده ده یاني د تعلیم او تربیی ښه زمونږ په هیواد کي ډیر ضعیفه ده ،په کار ده چي ، د تعلیم او تربیی سیستم په عصری علومو بدل کړو ،په دي لاره کي مونږ مجربو او فدا کاره استادانو ته هم ضرورت لرو .چي شپه او ورځي د نه ستړی کیدونکو کوششونو تر څنګه په زده کونکو هر اړخیزه مهربانی ولري ،چي د ښه مطالبو د پیدا کولو سره چي په اصول تدریس کي موجود دي، نور مطالب هم چي د روښنانتابه ښه په کي وي پیدا کړي، چي د زده کونکو زړونه او ذهنونه پری روښانه کړي ،یانی مطالب هغه مطالب واوسي چي د وخت او زمان ورته اړتیا ده ،چي هغه مطالب علمی ، تربیوی ، اخلاقی ، اصلاحی ، انتباهی تصوفی ، فلسفی ، او د علم او معرفت په هڅونه کي اوسي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ